PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۹۱۸

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۱۸ مه گڼه، پر له پسې ۱۹۸۵گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لړم ۲۰ مه - د پنجشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالقعدة الحرام ۵ مه ۲۰۱۰ د نومبر ۱۱ مه

رقابت برای تصاحب کرسی رییس ولسی جرگه آغاز شده است!

در حالی که هنوز نتایج نهایی دومین دور انتخابات پارلمانی که حدود سه ماه پیش برگزار شده، اعلام نگردیده است، خبرها حاکی از آن است که رقابت بر سر کسب کرسی ریاست ولسی جرگه آغاز شده است. برای سمت ریاست پارلمان کشور دیدو بازدیدها در داخل و خارج کشور صورت گرفته که برای تصاحب این سمت چند تن از گروه های سابق مجاهدین قرار است، رقابت نمایند و ظاهرا تلاش های این افراد برای جذب آراء از دید بسیاری از نکته بینان مخفی نمانده است. یونس قانونی، عبدالرب رسول سیاف، میرویس یاسینی، ص۳

نهه سوه مامورین هره میاشت تر یو میلیون ډالرو ډېرې پیسې ترلاسه کوي

وروسته تر دې چې د ولسمشر کرزي دفتر داومنله، چې د خپلې اداري د لګښت لپاره له ایرانه پیسې ترلاسه کوي. په افغانستان کې د امریکا د لګښتونو ځانګړې اداري یو رپوټ خپور کړ او په دې رپوټ کې یې څرګنده کړه چې له دوه زره پنځم میلادي کال راهیسې د ولسمشر کرزي دفتر ته امریکا تر شپږ نیم میلیونه ډالر ډېرې پیسې ورکړې دي.

د امریکا د لګښتونو د څېړنې اداره په خپل رپوټ کې دا هم څرګندوي چې په دې برخه کې دوی د امریکا حکومت ته ګټور وړاندیزونه کړې دي.

په افغانستان کې د امریکا د لګښتونو د څېړنې داداري رپوټ واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د سې شنبې په ورځ خپور کړ. په دې رپوټ کې څرګنده شوې ده چې امریکایي موسسې په افغانستان کې هره میاشت د افغان حکومت نهه سوه مامورینو ته چې په شپاړس وزارتونو کې کار کوي تر یو میلیون ډالر ډېرې پیسې ورکوي.

د دغو کسانو یو شمېر تخنیکي سلاکاران دي. دوي اداري چې ډېرې پیسې ترلاسه کوي، د معارف وزارت دی چې هلته ځلور سوه دیارلس تنه د امریکایي موسسو معاشونه ترلاسه کوي بله اداره تر وروستیو پورې د افغانستان د اطلاعاتو معلوماتو اداره وه چې تر ډېره د ولسمشرۍ درسنیو کارونه ترسره کوي. په دې اداري کې یو سل او درې تنو اضافي معاش اخیست.

د رپوټ له مخې په افغانستان کې د امریکا پرمختیايي اداري یا یو ایس اېډ د دوه زره اووم کال له جنوري د دوه زره لسم کال تر جنوري پورې په دې برخه کې تر نولس میلیونه ډالر ډېر لګولي دي. پر دې سربیره چې امریکایي موسسې نهه سوه افغان مامورینو ته معاش ورکوي، د امریکا دفاع وزارت د ملي اردو د پوځیانو او د پولیسو پر روزنه او تجهیزولو په میلیارډونو ډالر لګوي. په رپوټ کې ویل شوي دي چې یو ایس اېډ، د امریکا سفارت او نورې بهرنۍ اداري په دې برخه کې چې دا پیسې څو تنو او په دقیق ډول چا ته ورکول کېږي، دقیق معلومات نه شي ورکولای.

د دغو پیسو یوه اندازه ۳مخ

چرا دولتمردان ایران از افغانستان با ثبات در هراس اند؟

راهکارهای و سیاست های دولت ایران در قبال افغانستان برای همه مشخص است؛ دولتمردان این کشور، همواره با چشم پوشی از واقعیت های موجود افغانستان در مسایل کشور ما مداخله کرده و در پی آن بوده اند، تا آتش آشوب، جنگ و خشونت را بیش از پیش مشتعل و به این گونه آب را گل آلود ساخته و ماهی بگیرند. تداوم جنگ های چندین ساله در کشور و ادامهٔ بدبختی های افغان ها اگر از سویی ناشی از عوامل درونی است، اما عوامل بیرونی آن را که بخش عمدهٔ آن کاملا به وسیلهٔ نظام اخوندی ایران مدیریت می شود نیز نمی توان نادیده گرفت. ایرانی ها در طی سال های ۹۰ تا ۲۰۰۰ زمانی که افغانستان از سوی جامعهٔ جهانی به فراموشی سپرده شده و میدان برای همسایه گان خالی شده بود، چه مظالمی و نارواییهای نبود که بر سر مردم و کشور ما روا داشتند؛ وزیر امور خارجهٔ وقت ایران کمال خرازی صبح و شام در بامیان و مزارشریف حاضر بود و در مورد مسایل افغانستان خودسرانه تصمیم می گرفت و به وسیلهٔ گماشته گان خود به اجرا درمی آورد؛ لانه های جاسوسی و شبکه های مخرب ایران همه فضا و قضای افغانستان را زیر پوشش خود داشت، هیچ کسی نمی توانست در مورد مداخلات ایران در امور افغانستان کمترین سخنی بگوید. گذشته از این، سیاه روزی های و بدبختی هایی را که نیروهای امنیتی ایران در خاک ایران بر مهاجران مظلوم و بیچارهٔ افغان روا داشته اند و همه روزه تعدادی را گرفتار و تعدادی را به حبس ابد و شماری را به اعدام محکوم می نمایند و سپس در رابطه به شمار زندانیان و اعدام شده گان مهاجر افغان نیز به کسی معلومات نمی دهد و حتا اجساد اعدام شده گان را هم به افغانستان تحویل نمی دهد و گفته می شود که از آنها اعضای بدن شان را بیرون می آورند، چیزهایی است که همه مردم افغانستان در مورد آن معلومات داشته و ص۳

مشرف:
هند غواړي افغانستان او پاکستان سره واچوي

د پاکستان پخوانی پوځي ولسمشر پرویز مشرف وایي، هند هڅه کوي چې له افغانستانه د پاکستان دښمن دولت جوړ کړي. مشرف هغه انتقادونه رد کړل چې ګڼي ده د خپلې واکمنۍ په موده کې له سخت دریځو سره مبارزه نه کوله.

پرویز مشرف امریکا ته په سفر تللی ځو پاکستان ته د بېرته ستنېدو ملاتړ ترلاسه کړي. ده پرون وویل چې ده د هغو پاکستاني ترهګرو عکسونه لیدلي چې په کابل کې اوسي او په هند کې له استخباراتي مامورینو سره غونډه لري.

د مشرف اشاره د بلوچستان بېلتونپالو ته وه، چې له ډېرو کلونو راهیسې د بلوچستان د حقونو او خپلواکۍ لپاره جنګېږي او پاکستان تور لګوي چې له هغوی سره هند د افغانستان له لارې ملاتړ کوي. مشرف وویل: «که اجازه ولرم چې ډېرې ډېرې سپینې خبرې وکړم، د هند رول دادی چې له افغانستانه یو پاکستان دښمنه هېواد جوړ کړي. دا ماته ډېره څرګنده ده. هند په کندهار او جلال اباد کې کونسلګرۍ لري چې په پاکستان کې د ستونزو په رامنځته کولو کې لاس لري. دوی (کونسلګرۍ) بل رول نه لري.»

دا په داسې حال کې ده چې ۳مخ

تکتیک جدید نیروهای بریتانیایی در افغانستان

نیروهای ویژهٔ بریتانیا در افغانستان برای جستجوی ساختمان ها جهت یافتن طالبان، سگ هایی را با چتر نجات به پایگاه های طالبان می فرستند.

به گزارش روزنامهٔ دیلی نیوز، این سگ های آلمانی از نژاد شپرد بوده و مجهز به دوربین هایی است که جهت کنترول اتاق ها استفاده می شود و تصاویر آنها را ارسال می کند. تاکنون حداقل هشت سگ در این عملیات ها کشته شده است.

دولت بریتانیا این تکتیک ها را از نیروهای ویژهٔ امریکایی اخذ کرده است. اما وزارت دفاع از هرگونه اظهار نظر دربارهٔ انجام این عملیات توسط نیروهای ویژهٔ هوایی (SAS) سر باز زد. این سگ ها با تسمه هایی به سینه مربیان شان بسته شده است و دوربین هایی در سر آنها نصب شده، تا تصاویر گرفته ص۳

سفیر سابق بریتانیا در افغانستان:

دولت افغانستان یک دولت فاسد است و باید اصلاحاتی در داخل آن انجام شود

شمار محدودی از مقام های غرب طبیعت جنگ در افغانستان را درک کرده و اکثر مقام ها بر نیروی نظامی به عنوان یک راه حل تکیه کرده اند

سفیر سابق بریتانیا در کابل در کمیتهٔ امور خارجهٔ مجلس عوام این کشور اظهار داشت: بخشی از مشکل در افغانستان دولت این کشور است و محبوبیت طالبان در مناطق جنوبی بیشتر از دولت مرکزی است. سر شرارد کوپرکولز، سفیر سابق بریتانیا در کابل در کمیتهٔ امور خارجهٔ مجلس عوام بریتانیا اظهار داشت، دولت افغانستان یک دولت فاسد است و باید اصلاحاتی در داخل دولت انجام شود. وی افزود: سیاست کشورش در افغانستان به طرز گمراه کننده یی خوشبینانه است. به نوشتهٔ روزنامهٔ گاردین، سفیر سابق بریتانیا اذعان داشت که ارتش کشورش گزارش هایی که به طرز گمراه کننده یی خوشبینانه است در خصوص جنگ افغانستان به دولت ارایه می دهد و وزیرانی که این گزارش ها را مورد سوال قرار دهند، متهم به یاس، ناامیدی و خیانت می شوند. وی همچنین اظهار داشت: گزارش یکی از افسران ارشد بریتانیا در خصوص وضعیت جنگ در ولایت هلمند به گونهٔ دیگری ارایه شده است. در این گزارش که مطالبی در خصوص ناکار ص۳



کورنۍ او بهرنۍ موسسې او انجیوګانې جدي څارنې ته اړتیا لري

کورنۍ او بهرنۍ موسسې او انجیوګانې جدي څارنې ته اړتیا لري

میوند



په افغانستان کې د موسسو او انجیوګانو موضوع او د هغوی د فعالیتونو مسئله څه نوې خبره نه ده، بلکې له ډېر پخوا نه په افغانستان کې هم کورنۍ او هم ځینې بهرنۍ موسسې او انجیوګانو پر فعالیت بوختې دي. دغه موسسې په عمومي توګه په دوه ډوله وېشنه مومي:

لومړی، بهرنۍ موسسې: دا ډول موسسې په ډېرې هېوادونو کې خپل فعالیتونه ترسره کوي او یا په بله وینا په ډېرو هېوادونو کې مرکزونه او یا څانګې لري. په دې ډول موسسو کې داسې هم دي، چې یوه موسسه په یوه هېواد پورې اړه لري او مرکزي دفتر يې په هماغه هېواد کې وي، خو په ډېرو نورو هېوادونو کې هم څانګې لري او ټولو څانګوتـه يې بودجه پخپله د موسسې خاوند هېواد چمتو کوي او ځینې موسسې داسې دي، چې خپله بودجه د ملګرو ملتونو له نړیوالو موسسو څخه ترلاسه کوي. د ډېرې بهرنیو موسسو کارکوونکي هم بهرنیان وي او ډېر کم شمېر يې افغانان تشکیلوي او هغه هم په داسې یوه موقف کې قرار لري، چې هېڅ اجراییوي واک نه لري. بل دا چې په دغه ډول موسسو کې ډېر لوړ معاشونه ورکول کېږي او ډېر لوړ لګښتونه هم لري. دویم، کورنۍ موسسې: دا ډول موسسې پخپله د افغانانو له خوا رامنځته کېږي، په دې موسسو کې ځینې په شخصي توګه داشخاصو له خوا او ځینې هم د دولت له خوا رامنځته کېږي. په دغو موسسو کې ډېرې شمېر افغانان کار کوي او په ډېر کم شمېر هغه هم د مشاور په توګه په ځینو موسسو کې بهرنیان په کار ګومارل کېږي. د دغو موسسو معاشونه هم د دولت په پرتله ښه لوړ دي، خو دومره هم نه دي، لکه بهرنۍ موسسې يې چې ورکوي.

په هر صورت دا مقدمه مې ځکه وليکله، چې په لومړي سر کې سړی پوه شي، چې د موسسو نامه په یادولو سره باید په ذهن کې دا خبره راونه ګرځي، چې موسسې، یانې یوازې بهرنۍ موسسې دي، بلکې پر بهرنیو هغو سربېره کورنۍ هم شته، چې لګښتونه يې له کورنۍ بودجې ورکول کېږي.

باید ووایو، چې اوسمهال او بیا د ښاغلي کرزي ترمشرۍ لاندې حکومت کې د موسسو په کمیت کې خورا ډېروالی راغی، نه یوازې کورنۍ موسسې راپورته شوې، بلکې ګڼ شمېر بهرنیو موسسو هم په افغانستان کې فعالتونه پیل کړل. چا په یوه نامه او چا په بل نامه، چا د یوه هدف او چا د بل هدف لپاره موسسې رامنځته کړې او پر فعالیتونو باندې يې پیل وکړ. خو په همدغو موسسو کې ډېرې بهرنیوال او کورنیو موسسو نه یوازې دا چې د ولس او هېواد د ګټو او د ملت د هوسایۍ لپاره يې کار ونه کړ، بلکې د دوی ته يې هېڅ هم ونه کړل او ان ځینو موسسو د خپلو موخو خلاف کار ونه ترسره کړل او اوس يې هم ترسره کوي. په همدې ډول ولس ورو ورو له موسسو او د هغوی له کار و نوزړه تورۍ شو. بل دا چې ځینو موسسو له مرستندویو سرچینو څخه د هېواد د بیارغونې او نورو برخو د پیاوړتیا او پرمختیا په موخه ښې پرېمانه پیسې ترلاسه کړې، خو له بده مرغه دوی دا پیسې داسې وکارولې، چې څه يې پرې خپل جېب ته خدمت وکړ، څه يې پرې خپلو خپلوانو او دوستانو ته خدمت وکړ او ډېر کم څه يې د ملت او ولس د ګټو لپاره وکارولې. خو له دې ټولو سره سره ځینې داسې موسسې هم وې او شته، چې له مرستندویو سرچینو څخه يې د هېواد د بیارغونې او پرمختیا لپاره ډېرې پیسې ترلاسه کړې او لا يې هم ترلاسه کوي، خو یوه روپۍ هم د هېواد د بیارغونې په برخه کې په سمه توګه نه لګوي، بلکې د ځان او ملګرو لپاره يې پرې د لوکس ژوندانه اسانتیاوې برابرې کړې او په دې ډول يې له افغانستان سره شوې مرستې د ځاني او فردي ګټو قربانې کړې. په همدې حال کې اوسمهال موږ وینو، چې اکثره موسسې یوازې د خپل ځان لپاره کار کوي او که یوه اندازه کار هم کوي، نو د کار کیفیت يې ښکې خراب وي. موږ د دې شاهد یو، چې په ډېرې ولایتونو کې د کورنیو او بهرنیو موسسو له خوا ترسره شوي کارونه ډېرې نیمګړتیاوې لري او د دغو نیمګړتیاوو اصلي لامل هم دادی، چې د پروژو لپاره ورکړل شوې بودجه په سمه توګه نه لګوي، یانې که د یوې پروژې لپاره بودیجه ورکړل شي، نو سمه نیمایي يې د ځان د ګټو لپاره سپموي او په دې توګه د پروژې د کیفیت د خرابوالي لامل ګرځي. په هر حال باید ووایو، چې زموږ په هېواد کې که له یوې خوا په دولتي ۳مخ

قربانی و احکام آن

سید ابوالحسن علی حسن الندوی

خداوند متعال جل جلاله در قرآن کریم فرموده است:

ترجمه: "پس برای پروردگار خویش نماز بگزار، و قربانی کن" (سورهٔ کوثر-۲)

و رسول خدا (صلی الله علیه و سلم) فرموده است:

ترجمه: "فرزند آدم هیچ عملی را در روز عید قربان دوست داشته تر به سوی خداوند از ریختن خون، انجام نداده است و به تحقیق که قربانی در روز قیامت می آید با شاخ های خویش و موی های خویش و سم های خویش و به تحقیق که خون به مکانی فرو می ریزد بزرگ، قبل از آنکه بر زمین بریزد، پس به آن خاطر خوش باشید".

(به روایت ترمذی از عایشه رضی الله عنها)

و نیز رسول خدا (صلی الله علیه و سلم) فرموده است:

ترجمه: "کسی که دارای فراخ دستی و توانایی یی هست و قربانی نمی کند، پس به مصلای ما نزدیک نشود". (به روایت ابن ماجه از ابی هریره رضی الله عنه)

اضحیه به ضم همزه و کسر آن با تخفیف یا و تشدید آن: اسم آن چیزی است که در روز عید قربان ذبح کرده می شود.

و اضحیه در اصطلاح شرع: همانا ذبح کردن حیوان مخصوصی است به نیت قربت در وقت مخصوصی.

اضحیه در نزد امام ابو حنیفه (رحمت الله علیه) واجب است و فتوا نیز بر آن می باشد.

اضحیه در نزد امام ابو یوسف و امام محمد (رحمهما الله) سنت مؤکده است.

قربانی برچه کسی واجب است؟

قربانی واجب نیست مگر بر کسی که در وی شرط های زیر موجود گردد:

۱. اینکه مسلمان باشد، پس قربانی بر کافر واجب نیست.

۲. اینکه آزاد باشد، پس قربان بر برده واجب نیست.

۳. اینکه مقیم باشد، پس قربانی بر مسافر واجب نیست.

۴. اینکه غنی و توانگر باشد، پس قربانی بر فقیر واجب نیست.

و در وجوب قربانی این شرط نیست که یک سال کامل بر نصاب گردد. بلکه اگر شخص مسلمان در روز عید قربان افزون بر نیازمندی های اصلی خویش، مالک مقدار نصاب بود، قربانی بر وی واجب می شود.

وقت قربانی:

وقت قربانی از طلوع صبح روز دهم ذی الحجه آغاز می شود و وقت آن تا پیش از غروب روز دوازدهم ذی الحجه ادامه می یابد.

مگر باید توجه داشت که برای مردم شهرها و قریه های بزرگ جواز ندارد که قربانی ها را قبل از نماز عید ذبح کنند، اما برای مردم قریه های کوچکی که در آنها نماز عید واجب نیست، جایز است که قربانی را بعد از طلوع صبح ذبح نمایند.

افضل: ذبح کردن قربانی در روز اول از روزهای عید قربان است، سپس در روز دوم و سپس در روز سوم.

مستحب است که شخص قربانی خود را خودش ذبح کند؛ اگر عمل ذبح را به نیکویی انجام داده می توانست.

اما اگر چنانکه عمل ذبح را به نیکویی انجام داده نمی توانست، پس افضل این است که از غیر خویش در این رابطه کمک بخواهد و برای او لازم است، تا در وقت ذبح بر سر قربانی خویش حاضر باشد و نیز مستحب است که قربانی را در روز ذبح کند.

ولیکن اگر آنرا به شب ذبح کرد؛ جواز دارد- به همراه کراهیت.

اگر نماز عید به روی سببی از اسباب معطل گردانده شد، پس ذبح قربانی بعد از زوال خورشید جایز است.

اگر در شهری جماعت های روز عید متعدد گردید، ذبح کردن قربانی بعد از اولین نمازی که در این شهر خوانده شده است، جواز دارد.

ذبح چه حیواناتی در قربانی جواز دارد و ذبح چه حیواناتی در آن جواز ندارد؟

قربانی صحت ندارد، مگر با چهارپایان- از شتر و گاو و گاومیش و گوسفند و ذبح کردن حیوان وحشی در قربانی جواز ندارد. گوسفند برای یک نفر بسنده است.

و شتر و گاو و گاومیش از جای هفت کس بسنده است، به شرط اینکه سهم هر کدام از آنها یک هفتم آن باشد. پس اگر سهم یکی از آنان از یک هفتم کم گردید، قربانی تمام آنان صحیح نمی شود. ص۳

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سفر های دو بعدی مقام های غرب به افغانستان و سایر کشورها

سفرهای دو بعدی مقام های غربی به افغانستان و سایر کشورها پیام های دوگانه یی را به همراه دارد.

اگر یکی از مقام های کشورهای غربی و جامعهٔ جهانی طبق سفر پلانیزه شده و یا غیرمنتظرهٔ خویش به افغانستان وارد شوند، نخستین گام های خویش را به سوی پایگاه های نظامی نهاده از میدان های نبرد و عساکر تشنه به جنگ بازدید می نمایند و اگر از سر احسان مندی نظر به نیاز زمان و مکان لطفی هم نمایند، افزایش به تعداد عساکر و تجهیزات نظامی خواهد بود و آنگاه بدون اینکه جویای احوال قلب های حزین و دل شکستهٔ این ملت گردند و از حال زار یتیمان، بیوه زنان و معیوبانی که قربانی این همه لطف بیکران آنان گردیده اند، باخبر شوند، سر را در گریبان اندیشه و تفکر چگونگی افزایش نظامی نهاده و بدون سروصدا از راهی که امده اند، عقب بر می گردند، تا مبادا دستان ناتوان این ملت چاک گریبان آنان را پاره نماید.

ولی این شیوه و پالیسی در سفرها به سایر کشورها برعکس بوده و دارای جنبه های انسان دوستی و اقتصادی می باشد.

چنانکه سفر ده روزهٔ بارک اوباما رییس جمهور امریکا به جنوب شرق آسیا که اغازش کشور هند بود، برعلاوهٔ تعهد ده ها پیمان جدید اقتصادی، امضای موافقتنامهٔ ۱۰ میلیارد دالری وعدهٔ فراهم سازی سهولت در مقررات صادرات را نیز به هند داد و د رجمع غفیری از شورای تاجران امریکا و هند گفت که رابطهٔ دو کشورپیروزمندانه بوده و از همکاری های تعیین کننده در قرن بیست و یکم خواهد بود.

امریکا از چند دهه به این سو تلاش می ورزد، تا توجه هندوستان را به منظور تطبیق پالیسی های منطقه یی و بین المللی خود، به خود جلب نماید، چنانکه دو رییس جمهور اسبق امریکا تلاش نمودند، تا روابط خویش را با هند با وسعت دادن تجارت انکشاف دهند و حالا نوبت اوباماست که با پیروی از این پالیسی و دادن امتیازات اقتصادی می خواهد، توجه هندوستان را از سایر کشورها به ویژه روسیه، ایران و چین که از افزایش سریع اقتصادی آن سخت نگران است، به سوی خود جلب نماید و با تطبیق پالیسی امتیاز دهی به اهداف اسلاف خود نایل گردد.

از جانب دیگر، موضوع جلب حمایت هند در مقابله با تروریزم در افغانستان و سرکوب نمودن طالبان پاکستانی از اهداف دیگر این سفر است، تا امریکا و در مجموع جامعهٔ جهانی را در این راستا یاری نماید.

ولی سوال در اینجاست که امریکا و جامعهٔ بین الملل چرا برای حل معضل افغانستان که یک موضوع داخلی است، دست تضرع به سوی دیگران دراز نموده و طلب استعانت می نمایند. گاهی دست التجا به سوی روسیه دراز نموده و خواهان کمک می گردد و زمانی با دادن امتیازات مادی به هند و پاکستان تقاضای مددگاری می نماید.

ایا بهتر نخواهد بود که مشتاقان وهواخواهان صلح و دموکراسی که اشتیاق برقراری صلح و ثبات را در این منطقه دارند و خواهان وحدت ملی، آشتی ملی و همبستگی ملی در این کشوراند و میلیارد ها دالر را برای برنامه های میلیتاریستی و نظامی گری خویش به مصرف می رسانند و صدها هموطن خود را به هلاکت می رسانند، سری به آرای مردم بزنند و از قلب های داغدیده و خون چکان این ملت بپرسند که ملت محزون و به خون خفتهٔ افغان چه مشکل دارند و چه می خواهند؟

یقیناً که در این صورت، یعنی مراجعه به آرای مردم نه تنها معضلهٔ افغانستان حل خواهد گردید، بلکه کشورهای همسایه، منطقه و جامعهٔ جهانی نیز، از این معضله رهایی خواهند یافت.

تکتیک جدید نیروهای ...

شده از ساختمان ها و مناطق اطراف را ارسال کند. این سگ‌ها برای حمله به نیروهای مسلح تعلیم دیده‌است. یک منبع استخباراتی دربارهٔ کشته شدن این حیوانات گفت، به جای آنها ممکن بود، هشت سرباز نیروی ویژهٔ هوایی کشته شود.

سربازان نیروی ویژهٔ هوایی که برای مبارزه با افراد القاعده در عراق مستقر شده بود، طی دو سال اخیر به افغانستان منتقل شده‌اند. بنا به گزارش منابع نظامی، آنها مشغول عملیات های سرکوب قوماندانان طالبان در شهرهای هلمند و قندهار بوده‌اند.

روزنامه‌های بریتانیایی اعلام کردند که نیروهای ویژهٔ هوایی تعداد زیادی از افراد طالبان را کشته‌اند. از بهار تاکنون یک چهارم قوماندانان ارشد و چند درصد افراد آنها کشته شده‌اند. فعالان حقوق حیوانات، خشم خود را نسبت به این سوءاستفاده از سگ‌ها اظهار داشته اند. اعضای انجمن رفتارهای اخلاقی با حیوانات اعلام کردند، سگ‌ها ابراز نوآوری نیست و نمی‌توانیم، از آنها استفاده کرده و مانند پوکه‌های خالی فشنگ آنها را دور بیندازیم.

دولت افغانستان یک دولت فاسد ...

آمد بودن استراتیژی بریتانیا در افغانستان و به ویژه در ولایت هلمند سخن به میان آورده شده بود، تغییر یافت و به شکلی مثبت ارایه شد. کوپرکولز اظهار داشت: ما فوق این افسر دستور داد که این گزارش را به گونهٔ دیگری ارایه کند. سفیر سابق بریتانیا اظهار داشت که سیاست کشورش در افغانستان، سیاست ناکارآمدی است. وی افزود: مشکلاتی مشابه در واشنگتن نیز وجود دارد و عدهٔ اندکی از مقام ها طبیعت جنگ در افغانستان را درک کرده و اکثر مقام ها بر نیروی نظامی به عنوان یک راه حل تکیه کرده‌اند. وی افزود: امریکا و بریتانیا باید رویکرد نظامی خود در افغانستان را تغییر دهند.

کورنۍ او بهرنۍ موسسې او ...

اداره کې سخت اداري فساد روان دی، خوله بلې خوا په کورنیو نادولتي او بهرنیو موسسو کې هم دغه وایروس په قوي بڼه او غځېدلو ریښوسره لیدل کېږي. په همدې ترڅ کې دافغانستان د اقتصاد وزارت ورمه ورځ اعلان وکړ، چې په هېواد کې یې د څلورو بهرنیو موسسو په ګډون یوسلوپنځوس ناحکومتي موسسې لغوه کړې، دوی د دغو موسسو د لغوه کولو اساسي او مهم لامل دا وښود، چې دغو موسسو د خپلو پروژو او مالي لګښتونو راپور حکومت ته نه وورکړی.

د دغه وزارت ویاند صدیق امرخېل وویل د دې امر په نتیجه کې، چې د مرستندویو موسسو پر چارو د ځارونکي حکومتي کمېسیون له لوري شوی دی، یوسلو پنځه څلوېښت کورنۍ این جي او ګانې بندېږي. د اقتصاد د وزارت له اټکل سره سم اوسمهال په افغانستان کې شاوخوا یوزرو ۲۲۴ افغان او ۳۰۱ بهرنۍ این جي او ګانې کار کوي.

د موسسو د ځارنې کمېسیون د اقتصاد د وزارت ترمشرۍ لاندې فعالیت کوي. دا کمېسیون د ولسمشر کرزي له لوري له اداري فساد سره د مبارزې لپاره جوړ شوی دی.

دا خبره هم د یادونې ده، چې په افغانستان کې نادولتي موسسو او په تېره بیا د بهرنیو موسسو انجیوګانو په هکله ډېری وختونه داسې هم ویل شوي، چې په فساد کې تر ټولو لوی لاس لري او په هېواد کې د فساد یوازېنې ستر عاملین همدوی دي. که څه هم اقتصاد وزارت پر مرستندویو سرچینو هم غږ کړی، چې نور دغو موسسو ته پیسې او بودجه ورنه کړي. خو اوس اساسي مسئله داده، چې ایا حکومت کومې موسسې منحل اعلانوي، هغه چې یوازې دوی ته خپل کاري راپور ورنه کړي او که هغه موسسې چې په فساد کې تر سپورمو پورې ډوبې دي. ځکه د دغو موسسو فعالیت په افغانستان کې مرستندویو سرچینو او دولتي بودجې لپاره تر ټولو لویه ضربه ځکه ده، چې دوی د خپلو تر لاسه شویو پیسو ډېره برخه بې ځایه او د ځاني ګټو لپاره لګوي او خپل عیش و نوش پرې کوي. نو په دې توګه دولت ته اړینه ده، چې لومړی له خپله ځانه پیل وکړي او ځان د فساد له لومو خلاص کړي او همداشان د هغو ټولو موسسو او انجیوګانو کارونه او لګول شوې بودجې وڅاري او همداشان د پروژو کیفیت یې هم ځانته معلوم کړي او بیا یې په اړه پرېکړه وکړي. که چېرې هغه موسسې چې په هر اړخیز فساد او همدشان د دې هېواد او ولس لپاره زیانمنې تمامېدلې او د هېواد او ولس په ګټه نه دي، له یوه سره لغوه کړي او په دې توګه په افغانستان کې د پراخ فساد او پراخې بې نظمۍ مخه ونیسي او که نه، هم دولت او هم کورنۍ او بهرنۍ موسسې همداسې د فساد ځالي وي، نو په داسې حال کې که ټوله دنیا له افغانستان سره مرسته وکړي، نو ملت او ولس ته به یې هېڅ ګټه او خیر ونه رسېږي او ټولې مرستې به بیا هم د ځینو واکمنو او یا غاصبو کسانو لاس ته ولوېږي او ملت به پرې خبر هم نه وي، خو بیا به یې هم ډز له ملت څخه خېژي.

هند غواړي افغانستان او ...

یوشمېر پاکستاني او ډېر افغان کتونکي وایي چې ښایي هند به له پاکستان سره د سیالۍ له کبله غواړي چې افغانستان د پاکستان دښمن وي، خو په دې برخه کې د هند تر هلوځلو د پاکستان خپل منفي رول ډېر اغېز لرلی دی.

ځینې پاکستانیان په تېره بیا د دغه هېواد پخواني پوځي چارواکي په جارواېي، چې افغانستان به تر هغو پرې نږدي چې د سولې مخ ووینې، ځو په دې هېواد کې د پاکستان تر تاثیر لاندې حکومت نه وي جوړ شوی. دوی دا هم وایي چې طالبان د هند پر وړاندې د دوی ستراتیژیک دوستان دي.

پروېزمشرف چې په امریکا کې د بهرنیوړیکو کمېسیون ته وینا کوله، همداراز وویل: «ولې یې کونسلګرۍ په شمال کې د ازبکستان او تاجکستان په پولو کې نه دي جوړې کړي؟»

مشرف له دې نه و خبر چې هند پر کندهار او جلال اباد سربېره د افغانستان په شمال مزارشریف او لوېدیځ هرات کې هم کونسلګرۍ لري، چې یوه یې دازبکستان پولې ته نږدې ده او بله د ترکمنستان او ایران پولې ته.

تراوسه پورې په کابل کې د هند پر سفارت او مامورینو څو حملې شوي او هم دافغانستان استخباراتو او هم هند په دې حملو کې، چې د جلال الدین حقاني د شبکې په وسیله ترسره شوې، د پاکستان آی ایس آی په لاس لرلو تورن کړی. د امریکا سي آی اې هم منلې چې د پاکستان استخباراتو د هند پر سفارت په حمله کې لاس درلود. دوی ادعا کوي چې د حملې پلان په پاکستان کې جوړ شوی و.

ډېر افغانان وایي چې پاکستان د تاسیس له وخته، په تېره بیا په تېرو دېرشو کلونو کې، تل د افغانستان دورانولو او کمزورولو هڅه کړې حال دا چې افغانان د کولتور، ژبې، دین، مذهب او ګډ تاریخ له نظره د نړۍ تر بل هر هېواد پاکستان ته نږدې دي. دوی هیله لري چې پاکستان خپل خیر په یوه سوکال او اباد افغانستان کې ولټوي، نه د دې هېواد په بربادۍ کې.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما وړمه ورځ د هند پارلمان ته په وینا کې هند وستایه چې له جنګ ځپلي افغانستان سره یې ډېرې مرستې کړې دي.

د تاند د راپور له مخې، هند په تېرو نهو کلونو کې له افغانستان سره دیارلس سوه میلیون ډالره مرسته کړې ده. د هند په پیسو ډېر سړکونه، کلینیکونه، ښوونځي او نورې ټولګټې پروژې جوړې شوې دي.

په دې کې شک نشته چې پاکستان په خپله له اقتصادي ستونزو سره لاس وګرېوان دی او افغانان توقع نه لري چې پاکستان هم باید د هند هومره مرسته وکړي، خو په دوستۍ کې د پاکستان صداقت کېدای شي د افغانانو د خپلولو لپاره تر ډېرو ډېرو مالي او مادي مرستو د دواړو هېوادونو په نږدې کولو کې اغېزمن وي. خو پروېز مشرف وایي چې پاکستان تر وسه وسه هڅه کوي، نو باید مسوولیت د پاکستان پر غاړه وانه چول شي.»

ولې د دوی (طالبانو) د راوښتو مسوولیت یوازې د پاکستان پر غاړه اچوي. دا د افغان ځواکونو او نړیوالو ځواکونو ملامتي ده چې مخه یې نه شي نیولی.» مشرف په عین حال کې وویل: «باید ملامتي نیم په نیمه ووېشل شي. مورغلطي کوو، تاسې هم ملامت یاست.»

نهه سوه مامورین هره میاشت ...

حتا باغوانانو، اشپزانو، امنیتي مامورانو او د لیلیې د کار کوونکو په څېر کسانو ته ورکول کېږي. د پیسو ورکړه له یوه بل تن ته توپیر لري. مثلا د ولسمشر کرزي د دفتر مامورینو ته چې د میاشتې معاش یې شاوخوا دوه سوه ډالر کېږي، له پنځلس سوه تر څلور زره درې سوه اضافي ډالر ورکول کېږي. د حکومت جګپوړي چارواکي چې دولتي معاشونه یې دوه زره ډالرو ته رسي، بیا هم شاوخوا پنځه زره ډالر هره میاشت له یو ایس ایډ څخه تر لاسه کوي، همداراز دوی ته یو زر څلور سوه ډالر د دسترخوان خرڅ ورکول کېږي. په افغانستان کې د امریکا د لګښتونو د څېړنې اداري په رپوټ کې دا هم څرګنده شوې ده، چې د دغو پیسو یوه برخه د اسې مصرفیږي چې د امریکا له سیاست سره ټکر خوري. مثلا د ملي شورا غړیو، د ولسمشر د اداري غړیو، یو شمېر نورو مامورینو او صاحب منصبانو هڅې کړې دي، چې د خپل غښتلي دریځ د دفاع لپاره له دغو پیسو ګټه واخلي. داسې هم شوې دي چې په دې ډله کې ځینو هغه مقام پلورلي چې معاش ورته ټاکل شوی دی.

په رپوټ کې په دې برخه کې څو بهلګې وړاندې شوې دي، یوه یې دا ده چې د افغان حکومت یوه جګپوړي مقام چې هره میاشت یې پنځه زره ډالر اضافي معاش له یو ایس ایډ څخه اخیست، بیا په خپل وزارت کې لږ لوړ مقام ته وټاکل شو، خو بیا یې هم خپلې اضافي پیسې اخیستې، که څه هم دده نوې څوکۍ د یو ایس ایډ د مرستو په چوکاټ کې شامله نه وه. دازادي راډیو د راپور پر بنسټ، د امریکا د لګښتونو د څېړنې اداره په خپل رپوټ کې دا هم څرګندوي چې په دې برخه کې دوی د امریکا حکومت ته ګټور وړاندیزونه کړي دي، څو په دې پیسو کې شفافیت پیدا شي او د هغود بې ځایه مصرف مخه ونیول شي.

قربانی و احکام...

ذبح کردن گاو، گاومیش و شتر در قربانی از جای هفت شخص فقط در صورتی صحیح است که هر کدام از آنان با ذبح کردن آن، ارادهٔ قربت به سوی خدای عزوجل را داشته باشند.

اما اگر چنانکه یکی از آنان ارادهٔ آنرا داشت تا از گوشت آن استفاده نماید، پس قربانی تمام آنها صحیح نمی شود.

قربانی از گوسفند فقط در آن گوسفندی جواز دارد که یک سال تمام را کامل نموده و در سال دوم داخل شده باشد.

همچنان در قربانی؛ ذبح کردن گوسفند میش هشت- نه ماهه یی که اگر سال بر وی گذشته باشد و چنان چاق و فربه باشد که یک ساله به نظر آید، جایز است.

در همین حال باید گفت، قربانی از گاو و گاومیش جواز ندارد، مگر آنچه که دو سال را کامل نموده و در سال سوم داخل شده باشد.

قربانی از شتر جواز ندارد، مگر آنچه که پنج سال را تکمیل نموده و در سال ششم داخل شده باشد.

بهتر این است، حیوانی که درقربانی ذبح می شود، چاق و فربه بوده، از تمام عیب ها سالم بوده باشد.

و لیکن اگر حیوان (جماء) بود و آن حیوانی است که خلقتاً شاخ ندارد، ذبح آن برای قربانی جایز است.

رقابت برای تصاحب کرسی ...

رمضان بشردوست از جمله چهره هایی هستند که از هم اکنون برای تصاحب سمت ریاست ولسی جرگه تبلیغاتی را آغاز نموده اند و قصد دارند، در انتخابات ریاست ولسی جرگه با یکدیگر رقابت نمایند.

اینکه کدام یک از این افراد می تواند، در احراز این سمت موفق باشند را باید گذر زمان مشخص نماید؛ زیرا مطمینا مسایل پشت پرده و زد و بندهای سیاسی فراوانی در این مقوله صورت خواهد گرفت ولی لازم است، گفته شود که در اولین دور انتخابات ریاست پارلمان کشور در سال ۱۳۸۴ شمسی یونس قانونی، عبدالرب رسول سیاف، انورالحق علومی، سید اسحاق گیلانی، شکریه بارکزی، صفیه صدیقی و قدریه یزدان پرست با یکدیگر به رقابت پرداختند.

در نهایت محمد یونس قانونی با به دست آوردن ۱۲۲ رای به عنوان رییس ولسی جرگه انتخاب شد و عبدالرسول سیاف ۱۱۷ رای، سید اسحق گیلانی ۱۶ رای، نورالحق علومی ۱۲ رای، شکریه بارکزی ۹ رای، قدریه یزدان پرست ۶ رای و صفیه صدیقی ۵ رای آوردند.

با این وجود از آن زمان پنج سال گذشته است و مردم و نماینده گان نحوهٔ ریاست قانونی را دیده اند. به هر حال مطمینا فقط این چهار نفر نخواهند بود که در رقابت برای کسب سمت ریاست پارلمان کاندید می شوند و دیگران نیز احتمالا شرکت خواهند کرد، ولی همه ملت افغانستان آرزو دارند، شخصی دلسوز، شایسته و با صلاحیت رییس مجلس کشور شان باشد.

چرا دولتمردان ایران از افغانستان ...

فرد فرد افغان آن را درک می کنند، ولی بازهم کسی نیست که از حکام ایران جویای این همه مظالم و ناروایی ها شود؛ رییس جمهور از ایران رشوت می گیرد و دیگر مقام ها نیز از این فساد بی بهره نمانده اند. به هر حال، بادرنظرداشت آنچه گفته آمدیم، دیروز علی آهنی معاون وزیر امورخارجهٔ ایران در گفتگو با روزنامهٔ ایل مانیفستو چاپ ایتالیا، در پاسخ به این سوال که آیا مذاکره با طالبان درمسألهٔ افغانستان می‌تواند، یک راه حل باشد؟، باردیگر نیت اصلی سردمداران را در قبال قضایای افغانستان روشن ساخت وی در این مورد گفت: تجربه می‌گوید، نه. وی درعین حال افزود: همچنین طرح افزایش حضور نظامیان امریکا و متحدان آن نیز، مشکلات افغانستان را حل نکرده، بلکهٔ آن را پیچیده تر می‌کند. وی در ادامه باردیگر راه آسانی را برای حل معضلهٔ افغانستان ارایه کرد که مفهوم این را می رساند، نه امریکا و نه طالبان، بلکه ایران؟! وی گفت برنامهٔ زمانی برای خروج نیروهای خارجی و تشکیل گروه های کاری از دولت‌های همسایه می‌تواند، قدم مهم و رو به جلو باشد. بادرنظرداشت اظهارات این مقام مسوول ایرانی در راستای گفتگوهای صلح دولت افغانستان با طالبان، باید خاطر نشان کرد که چنین اظهار نظرها در قدم اول، مخالف خواسته ها و ارادهٔ مردم افغانستان است؛ همین روز گذشته موسسهٔ آسیا فاوندیشین نتایج سروی یی را به نشر سپرد که بر مبنای آن گفته شده بود، ۸۵ درصد مردم افغانستان از پروسهٔ صلح با طالبان حمایت می کنند. در قدم دوم، ایرانی ها با چنین ابراز نظرها، در تلاش هستند، میدان افغانستان باردیگر برای آنان خالی شود و آنان باشند که در قبال قضایای افغانستان حرف اول را بگویند. واضح است، زمانی که جامعهٔ جهانی و طالبان در افغانستان نباشد، دیگر افغانستان نقد ایران بوده و فردای آن می توانند بگویند، افغانستان جز خاک ایران است! زیرا در صورت عدم حضور جامعهٔ جهانی وطالبان در افغانستان، دیگر کسی نیست که از مداخله های ایران در افغانستان پرده بردارد و از آن جلوگیری نماید؛ هیاهوی و سروصداهای روزهای گذشته را همه به یاد داریم که همه نمایانگر آن بود که ایرانی ها به شمول رییس جمهور بسیاری از اعضای بلندپایهٔ دولت، گروه های سیاسی، اعضای مجلس نماینده گان و رهبران جهادی را تطمیع نموده است؛ پس در آن صورت، کی ها خواهند بود که در برابر مداخلات و دست درازی های ایران قدعلم نماید و افغانستان را از سیطرهٔ بالفعل ایران نجات دهد.

اهداف سفر اوباما به هند؛

اقتصاد یا ایتلاف ضد پاکستان؟



رییس جمهور امریکا در جریان سفر ۱۰ روزه اش به کشورهای آسیایی نخست به هندوستان سفر نمود وبا حضور در این کشور و مستثنی کردن پاکستان از جریان سفرهای آسیایی‌اش، شبهات زیادی را در خصوص روابط امریکا باهم‌پیمانش در جنگ علیه تروریزم (پاکستان) به وجود آورده است و این موضع بیانگر نارضایتی اوباما از عملکرد اسلام آباد در مبارزه با تروریزم است.

سایت انترنتی المحیط، در تحلیلی به بررسی سفر اوباما به کشورهای آسیایی و علت عدم درج پاکستان در برنامهٔ این سفر نیز نوشته است، اوباما چند روز پس از شکست در انتخابات میان دوره‌یی کنگره در راستای سفر دوره‌یی ۱۰ روزه به آسیا که شامل هند، اندونیزیا، کوریای جنوبی و جاپان می‌شود، وارد هند شد. با وجود اینکه هدف اوباما از این سفر مشارکت در مجمع همکاری‌های اقتصادی آسیا و اقیانوسیه (اپک) در جاپان و نشست گروه ۲۰ در کوریای جنوبی و امضای قراردادهای تجارتی با هند اعلام شده، اما جای بحث وجود ندارد که هدف اصلی سفر وی به هند افزایش فشار بر پاکستان است.

اوباما پاکستان را از سفرهای آسیایی‌اش مستثنی کرده است؛ اقدامی که دلایل مهمی را در خود دارد و نشان می‌دهد که وی به امید بازگرداندن حمایت‌های مردمی از خویش به ویژه پس از شکست دموکرات‌ها در مجلس نماینده گان امریکا با مسایل مسلمانان تجارت می‌کند.

درست است که اوباما شکست دموکرات‌ها در انتخابات میان دوره‌یی کنگره را به ناراحتی امریکاییان از عملکرد اقتصادی‌اش نسبت داده و به همین دلیل، به امید ایجاد فرصت‌های کاری بیشتر برای امریکاییان به آسیا آمده است، اما تمرکز وی بر سفر به هند در آغاز سفرهای دوره‌یی، پیامی هشدار آمیز و آشکار به پاکستان نسبت به پیامدهای عدم پاسخگویی به خواسته‌های واشنگتن به ویژه در خصوص مبارزه با طالبان و القاعده است.

این مسأله به شکلی کاملا آشکار در گزارش روزنامهٔ امریکایی نیویارک تایمز، پیش از سفر اوباما به هند بیان شد که در آن تاکید شده بود، دولت اوباما فشارهای بیشتری را بر پاکستان جهت گسترش جنگ علیه طالبان و تشکیلات القاعده وارد می‌کند.

این روزنامه اعلام کرد که اوباما در پیام خود به اسلام آباد تاکید کرده که از دولت آصف علی زرداری، رییس جمهور پاکستان انتظار دارد، کشورش را از نظر سیاسی آماده نموده و سازمان‌های امنیتی‌اش را برای افزایش حملات علیه افراط‌گرایانی که پاکستان و افغانستان را تهدید می‌کنند، بسیج کند.

به نظر می‌رسد، اقدام اوباما در آغاز سفرش به هند مبنی بر تجلیل از قربانیان حملات سال ۲۰۰۸ بمبی دیگر پیام هشدارآمیز به پاکستان است و اقامت وی و همراهانش در هوتل تاج محل که هدف این حملات قرار گرفته بود، تاکیدی بر قدرتمند بودن ایتلاف هند و امریکا در مقابل پاکستانی است که سازمان استخبارات هند آن را به حمایت از مجریان حملات بمبی متهم کرده است.

اوباما به محض ورود به هوتل تاج محل به همراه همسرش، با یک دقیقه سکوت برای گرامیداشت یاد قربانیان این حملات و سخنرانی مقابل این هوتل مبنی بر اینکه امریکا و هند علیه تروریزم متحد اند و همچنین اعلام اینکه سفرش به هند بیانگر تصمیم دو کشور برای تضمین آینده‌یی امن‌تر و شکوفاتر برای مردم امریکا و هندوستان است، بر این اظهارات صحه گذاشت.

علاوه بر این، همزمانی سفر اوباما به هند با برگزاری مراسم یادبود کشتار مسلمانان کشمیر به دست نیروهای هندی در ۶ نومبر سال ۱۹۴۷ اقدامی است که خشم پاکستان را با توجه به حساسیت کشمیر به عنوان مسألهٔ مورد نزاع بین این کشور با هند برانگیخته است و شاید تظاهرات مسلمانان کشمیر همزمان با سفر اوباما به هند، بیانگر خشم آن‌ها از جانبداری آشکار امریکا از هند علیه منافع پاکستان به طور کل و منافع مسلمانان کشمیر به شکل ویژه باشد؛ همان‌طور که اظهارات وی در حاشیهٔ دیدار از دهلی نو خشم و غضب مردم پاکستان را برانگیخته است.

اعلام قراردادهای تجارتی ۱۰ میلیارد دالری با هند و تقدیر از رشد اقتصادی هند و اعلام آن به عنوان یکی از دستاوردهای تاریخ بشریت، با وجود دستاوردهای اقتصادی هند طی دوره‌های اخیر نه تنها توازن منطقه‌یی بین هند و پاکستان را متضرر ساخته، بلکه هند را نه تنها به عنوان یک قدرت منطقه‌یی، بلکه یک قدرت جهانی نشان داده که به این ترتیب به نوعی خشم چین را نیز بر می‌انگیزد.

کاملا مشخص است که واشنگتن به هند به عنوان یک قدرت برابر در رویارویی با چین نگاه می‌کند. اظهارات اوباما در هند نشان داد که وی هند را یک فرصت تجارتی مناسب برای امریکا می‌داند که شرایط کار برای ده‌ها هزار امریکایی را فراهم می‌کند.

خلاصه اینکه سفر آسیایی اوباما که هدف آن اقتصادی اعلام شده، در تلاش برای تاثیرگذاری بر توازن منطقه‌یی از طریق حمایت از هند به ضرر پاکستان صورت می‌گیرد.

ایا په ربښتیا هم امریکا له اسلامي نړۍ سره اړیکي ټینګوي؟!



ولسمشر بارک اوباما د اندونیزیا په پلازمینه جاکارتا کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال له اسلامي نړۍ سره د امریکا او لوېدیځ د اړیکو پر پراختیا ټینګار کړی.

ښاغلي اوباما وویل د لوېدیځ او مسلمانانو تر منځ د بدګمانۍ د ختمولو لپاره سمه لاره خپله شوې او څه پرمختګ هم شوی دی.

خو باور یې دا و چې په بشپړه توګه له اوږدې مودې په میراث پاتې شکونو او بې باوریو ختمول چې اوس پرې ترهګرۍ هم سیوری غوړولی ډېر کار او ډېرې خواړی ته اړتیا لري:((په امریکا، اندونیزیا او په ټوله نړۍ کې لا هم بې ګناه ملکیان د سخت دریځو د زور زیاتي هدف دي.

زه به دا روښانه کړم چې امریکا به هېڅکله هم له اسلام سره پر جګړه کېنوځي. د دې پر ځای مورږ ټول باید د القاعدې او د هغې د ملاتړو په ماتولو کار وکړو او دا یوازې د امریکا دنده نه ده.))

ولسمشر بارک اوباما به د نفوسو له مخې تر ټولو لوی مسلمان هېواد اندونیزیا کې پرون ددغه هېواد یوه لوی جومات ته لاړ او له اندونیزیا سره د امریکا د متحد په توګه د ملګرتیا د ټرون د بیاتاییدتر څنګ به مسلمانانو ته به د خپل در ناوې پیغام وړاندې کړ.

وړاندې د هند د لیدنې پر مهال ولسمشر اوباما وویل دی په امنیت شورا کې د اصلاحاتو او د هند د غړیتوب په تمه دی.

پاکستان پر دغه ګام کلکې نیوکې کړې وې او ویلي یې وو، د خپلو ګاونډیانو او د کشمیر په اړه د هند چلند او تګلاره د امنیت شورا ته د ننوتلو دغه هڅې بې باوره کوي.

د بي بي سي د راپور له مخې، په هند کې دننه بیا د امریکا د ملاتړ د دغې اشارې پراخ هرکلی شوی، چې له کلونو راهیسې په امنیت شورا کې د دایمي څوکۍ ترلاسه کولو لپاره په ملاتړ را غونډولو لګیا دی.

اعلامیه جهانی حقوق کودک

اصل دوم: کودک باید از حمایت ویژه برخوردار شود و امکانات و وسایل ضروری برای پرورش بدنی، فکری، اخلاقی و اجتماعی وی به نحوی سالم و طبیعی و در محیطی آزاد و محترم توسط قانون یا مراجع ذیربط در اختیار وی قرار گیرد. در وضع قوانینی بدین منظور منافع کودکان باید بالاترین اولویت را داشته باشد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادہ ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com